# خبرپانه

## د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام

### ډاياګ له يو کال څخه وروسته په ټول هيواد کې په خپرېدو دی

۲۵ غبرګولي ۱۳۸۵

## په دي ګڼه کي


کابل ښاروالي ته يوولس عامه تشنابونه وسپارل شول ۲

په افغانستان کې د خپل خوښو کارکوونکو لومړی غونډه ۲

د يوناما په مطبوعاتي کنفرانس کې د معلولينو پر پروژو رڼا واچول شوه ۳

د پوليسو لپاره د کمپيوټر مهمه روزنه ۳

د ملګرو ملتونو د افغانستان ټيم په واليبال کې د ژيړو (برونز) تمغه وګټله ۳

د ملی شورا غړي په ايستونيا کې روزنيز کورس کې برخه اخلي ۴

د مدني ټولنې په هکله د مقننه قوې د ملاتړ د پروژې غونډه ۴


د ناقانونه وسله والو ډلو د ړنګولو بهير (ډاياګ) يو کال کيږي چې په رسمي توګه پيل شوی او په ښه توګه پرمخ روان دی. دغه بهير د دې تر څنګ چې په تير کال کې يې تر (۲۰۰۰۰) ميله ډيره وسله راغونډه کړې په تيرو اونيو کې يې يو شمېر د پام وړ لاسته راوړنې درلودې.د ډايکندي په ولايت کې هم د ډاياګ بهير روان دی او د دغه ولايت د ډاياګ ولايتي ناظم د غبرګولي پر ۳مه (مې ۲۴) په نوموړي ولايت کې د ډاياګ د اصلي پړاو د پيل کولو لپاره يو ورکشاف جوړ کړی ؤ. د ډاياګ ولايتي ناظم د دغه ورکشاف په ترڅ کې د ډاياګ د هغه اصلي پړاو د عملياتي طرحې او د پلي کولو د پلان په هکله معلومات ورکړل چې ډير ژر به په ډايکندي کې پيل شي. د دغه ورکشاف موخه د هغو موضوعاتو تعقيبول وو چې د غويي پر ۲۴مه نېټه د ډاياګ د اصلي پړاو د دويمې ډلې د اتو ولايتونو لپاره جوړ شوي کنفرانس کې طرحه شوې وې. په دغه ډله کې بدخشان، فراه، غور، ننګرهار، باميان، وردګ، غزني او دايکندي ولايتونه شامل دي. د ډاياګ اصلي پړاو د هغه حکومتي پروګرام يوه برخه ده چې په هېواد کې د ناقانونه وسله والو ډلو د ړنګولو لپاره د بې وسلې کولو او بيا ميشته کولو د کمېسيون د ګډې دارالانشاء له خوا د نړيوالې ټولنې په ملاتړ پلي کيږي.

### ډاياګ په تخار کې

د غبرګولي ۱۱مه د تخار په ولايت کې د ډاياګ د اصلي پړاو د پيل په خاطر د بري د ورځې په توګه ولمانځل شوه. تخار له کاپيسا، هرات او فراه څخه وروسته د لومړي ګروپ څلورم ولايت دی چې د ډاياګ اصلي پړاو پيلوي.

په تخار کې اته ديرشو ناقانونه وسله والو ډلو او له ناقانونه وسله والو ډلو سره تړليو دولتي چارواکو ته د خبرتيا ليکونه، چې د ولسمشر د دويم مرستيال له خوا لاسليك شوي وو، وسپارل شول. دغه ليکونه په ګوته شوو ډلو او چارواکو ته ۳۰ ورځې وخت ورکوي چې خپلې وسلې وسپارې، ناقانونه وسله والې ډلې ړنګې او يا له هغو سره خپلې اړيکې وشلوي که نه نو ګوښه به کړی شي او يا به د دولتي ارګانونو له خوا تر عدلي تعقيب لاندې ونيول شي. جنرال داود د کورنيو چارو مرستيال وزير ووېل چې ډاياګ داسې يو پروګرام نه دی چې يوازې له وسله والو څخه وسلې راټولې کړي بلکې په هېواد کې د پايېدونکي خونديتوب او امنيت لپاره ناقانونه وسله والې ډلې هم ړنګوي

### ډاياګ په لغمان کې

د بې وسلې کولو او بيا ميشته کولو د کمېسيون ګډې دارالانشاء د غبرګولي پر ۱۷مه په رسمي توګه په لغمان کې د ډاياګ د بهير اصلي پړاو پيل کړ.له کابل څخه يو لوړ پوړی پلاوی د دغه بهير د پيلولو په مراسمو کې د ګډون لپاره لغمان ته تللی ؤ. د دغو مراسمو په ترڅ کې ۱۷ پخوانيو قومندانانو او دريو دولتي چارواکو ته په ۳۰ ورځو کې د ننه د ناقانونه وسله والو ډلو د ړنګولو د خبرتيا ليکونه ورکړل شول.د ډاياګ بهير د ۱۳۸۴م کال د غبرګولي پر ۱۱مه پيل شو. ۱۳۸۵م کال د غبرګولي تر ۲۱مې نېټې پورې (۲۲۸۹۶) ميله وسله چې (۱۴۳۰۴) ميله يې فعاله وه او همدارنګه (۲۱۴۶۷) په صندوقو کې بندې مرمۍ او (۱۹۱۷۶۰) پرانيستې مرمۍ د افغانستان د نوي پيل د پروګرام د راغونډولو ټيمونو ته سپارل شوې دي.

**د ډاياګ د بهير موخه په افغانستان کې د ناقانونه وسله والو ډلو د نفوذ له منځه وړنه ده چې په همدې توګه په هېواد کې د سولې ټينګښت، د قانون واکمنۍ او سوکالۍ ته لار هواروي. پخواني قومندانان او يا له ناقانونه وسله والو ډلو سره تړلي دولتي چارواکي به په خپله خوښه د خپلو وسلو د سپارلو، د ناقانونه وسله والو ډلو د ړنګولو يا له هغوی سره د اړيکو شلولو له لارې دا جوته کړي چې د يو خوندي او سوکاله افغانستان د جوړولو لپاره د حکومت ملاتړ کوي.**

## کابل ښاروالي ته یوولس عامه تشنابونه وسپارل شول



ډیر مناسب اټکلونه ښيي چې د کابل نفوس به د ۲۰۰۱م په نومبر کې د طالبانو له راپرځېدو راهیسي له (۵۰۰۰۰۰) څخه ممکن څلورو ملینو خلکو ته رسیدلی وي، چې د نفوس دغې ګڼې ګوڼې پر عامه خدماتو سخت فشار او زور راوستلی دی. د دې لپاره چې د ګڼې ګوڼې پر دغه ښار باندې فشار یو څه کم شي د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د ښاري پراختیا ګروپ د کابل ښاروالي او د ښاري پراختیا له وزارت سره په ګډه د ښار په اتو حوزو کې یوولس عامه تشنابونه جوړ کړل. دغه تشنابونه د ښځو او نارینه وو لپاره بېلې بېلې برخې لري چې هره برخه یې د معلولینو لپاره د ښپیر لاسرسي وړ تشناب په ګډون ۵ تشنابونه لري. دغه پروژه چې په اوو میاشتو کې د ۶۵۴,۰۰۰ امریکایي ډالرو په لګښت بشپړه شوې، اصلاً د کابل د ښاروالی له خوا د ښار بنسټیزو زیربنایي اړتیا وو ته په پام سره وړاندیز شوې وه. د ښاري پراختیا د ګروپ د پروژو د لاربښودو صولو سره سم د تشنابونو په جوړولو کې د کورنیو بېځایه شوو کسانو، پخوانیو جنګیالیانو، راستنېدونکو او له خطرې سره مخامخ کسانو لپاره د ۱۷,۵۷۴ ورځو کار زمینه مساعده شوې وه.

## په افغانستان کې د خپل خوښو کارکوونکو لومړی غونډه

د ملګرو ملتونو تر ۷۰ ډیر نړیوال او کورني خپل خوښي کارکوونکي د افغانستان له بېلابېلو برخو څخه د ۱۳۸۵م کال د غبرګولی له ۱۹ تر ۲۰مي نېټې پورې په کابل کې د جلال اباد پر لویه لار د څرخې د پله په سیمه کې د یونوکا د ودانۍ د یونیسف د غونډو په خونه کې د لومړي ځل لپاره سره را غونډ شوي وو. دغه محفل د ملګرو ملتونو د مقیمي ناظمې او د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د مقیمي استازې امیرا حق له خوا پرانیستل شو. اغلې حق په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د خپل خوښو کارکوونکو ارزښتناکه ونډه په ګوته کړه او دا چې دوی څنګه د عامه سطحې په لاسته راوړنو، په ځانګړي ډول د ټاکنو په څیر ساحو کې د ملاتیر نقش لوبوي.دغې غونډې خپل خوښي کار ته د ودې ورکولو، د زریزې د پراختیایي اهدافو د بیا کتنې او ملاتړ او د ملګرو ملتونو د خپل خوښو کارکوونکو تر منځ د تجربو د شریکولو او د دوی ستونزو ته د هواري د اغیزمنو لارو چارو د موندلو په هکله د بحث لپاره د موقع برابرولو موخه درلوده. د ملګرو ملتونو د خپل خوښو کارکوونکو سازمان هغه اداره ده چې د خپل خوښو کارکوونکو د خوځولو په ګډون د خپل خوښي کار د ودې له لارې په نړیواله کچه د باثباته بشري پرمختګ ملاتړ کوي. د ملګرو ملتونو د خپل خوښو کارکوونکو پروګرام په افغانستان کې له ۱۹۸۹ راهیسي شتون لري او په دغه موده کې یې تر ۱۰۰۰ ډیرو کورنیو او نړیوالو خپل خوښو کارکوونکو د امداد، بشري مرستې، کاري ظرفیت لوړولو پروګرامونو، او د افغانستان د ولسمشرۍ او پارلماني لومړنیو ټاکنو د نوملیکنې او رایه اچونې په پروژو کې د کار له لارې د افغانستان په بیا رغونه او پراختیا کې برخه اخیستې ده.

**" د خپل خوښي کار په زړه کې وروستۍ هیلې خدمت، پیوستون او دا باور دی چې په ګډه سره نړۍ ښه کولی شو، نو ویلی کېدای شي چې خپل خوښی کار د ملګرو ملتونو د ټولیز څرنګوالي سم ښکارندویه دی." کوفي عنان**




www.unvafghanistan.org



## د یوناما په مطبوعاتي کنفرانس کې د معلولینو پر پروژو رڼا واچول شوه

د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري د معلولیت پر خلاف د مبارزې پروګرام د یوناما په اوونيز مطبوعاتي کنفرانس کې د غبرګولي پر ۲۲مه (جون ۱۲) نېټه د خپل کار په هکله معلومات وړاندې کړل. د معلولیت پر خلاف د مبارزې د پروګرام مدیرې شایا اسیندوا ابراهیم خبري رسنیو ته د افغانستان د اشاري د ژبې، د کابل د خیرخاني په سیمه کې د معلولینو د منابعو مرکز د بشپړېدو او له معلولیت څخه د اګاهي لپاره امریکا ته د اتو معلولینو د سفر په څیر موضوعاتو په هکله معلومات وړاندې کړل. راتلونکې اونۍ کې له امریکا څخه د کنو د مسایلو ماهرین په افغانستان کې د هېواد د اشاري د ژبې پر لا پراختیا کار پیلوي تر څو د دغې ژبې اوسني دوه زره لغتونه څلورو زرو لغتونو ته ورسوي.

داسي اټکل کېږي چي په افغانستان کې تر (۱۰۰۰۰) ډیر داسي خلك شته چي غږ نه اوري.

**حقایق او شمېرې**

**د هیندیکیپ نړیوالي مؤسسې له سروې سره سم په افغانستان کې تر (۸۰۰۰۰۰) ډیر معلولین شته (رښتیني شمېرې کېدای شي ان دوه ملیونه وي)**

**له دغو معلولینو څخه په سلو کې ۴۴ فزیکي، ۳۸ دماغي او ۱۸ حسي معلولیت لري**

**پنځه ویشت په سلو کې معلولیتونه له جګړې سره تړاو لري**

**پنځه اویا په سلو کې معلولین ښوونځیو ته نه ځي**

**اتیا په سلو کې معلولین کار نه لري.**



علیم صدیق، د یوناما د عامه اطلاعاتومسؤول، د یوناما په اونیزه خبري ناسته کې د معلولیت په وړاندې د مبارزې د ملي پروګرام مسؤوله شایا اسیندوا ابراهیم خبریالانو ته وربېژني.

## د پولیسو لپاره د کمپیوټر مهمه روزنه

د افغانستان له ۱۵ ولایتونو څخه ۴۸ پولیس افسرانو د کمپیوټر د اساساتو شل ورځنۍ روزنې پیل کړه، چي دغه روزنه به دوی د حقوقو د ورکړې له برېښنایي سیستم او د بشري قوا ډیتابیز څخه د کټې اخیستو جوګه کړي. دغه روزنه د پولیسو له خدماتو سره د قانون او نظم د صندوق د مرستې یوه برخه ده. د کورنیو چارو په وزارت کې د پولیسو د حقوقو د ورکړې د کمپیوټري کولو پروژه د ۲۰۰۴م کال په مارچ کې پیل شوې ده

## د ملګرو ملتونو د افغانستان تیم په والیبال کې د ژیړو (برونز) تمغه وګټله

د ملګرو ملتونو د افغانستان د والیبال ډلي د ملګرو ملتونو په هغو لوبو کې د ژیړو (برونز) تمغه وګټله چي د مي له ۱۷- ۲۳ پورې د ایټالیا د پیسارو په ښار کې ترسره شوې. په دغو لوبو کې د ملګرو ملتونو ۱،۳۵۰ کارکوونکو برخه اخیستې وه. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له سازمانونو څخه څلورویشت لوبغاړو د فوټبال، باسکیټبال، لامبو، ټیبل ټینس او والیبال په لوبو کې برخه اخیستې وه.



**د ملګرو ملتونو د افغانستان والیبال تیم**



**جهت معلومات بیشتر:**

**دومانیك میدلی، مسؤول روابط رسانه ها**
+۹۳ (۰) ۷۰ ۶۹۱ ۹۸۵
dominic.medley@undp.org

**عزیز الرحمن گلبهاری، مسؤول اطلاعات و نشرات**
+۹۳ (۰) ۷۹۹ ۳۷۰ ۵۶۷
aziz.gulbahari@undp.org

# د ملی شورا غړي په ایستونیا کې روزنیز کورس کې برخه اخلي

د افغانستان د ملي شورا اته (۵ د ولسي جرګي او ۳ د مشرانو جرګي) غړي او د دارالانشاء پنځه کارکوونکي په ایستونیا کې د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجی په روزنه کې برخه اخلي څو دوی ته د معلوماتي ټولني په هکله د سمو ملي تګلارو او ستراتیژیو د ځای پر ځای کولو اهمیت جوت شي. دغه روزنه به د دوی په رښتیني ژوند ګټوره اغیزه ولري، د ډیموکراسی له بهیر سره به مرسته وکړي او دوی به دا ووینې چې معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجی څنګه د یو هیواد په عمومي پراختیا باندې اغیزه کوي. د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرام د سیل (مقننه قوې د ملاتړ) پروژې دغه روزنه د هغې ژمنې د یوې برخې په توګه تنظیم کړې چې د ملي شورا له غړو او کارکوونکو سره یې د ګډ کار کولو په برخه کې کړې وه. دغه اوونیز تخصصي کورس د ایستونیا د ټلنین د ښار د بریښنایي اداري (اي ګورنینس) په اکاډمی کې ترسره کیږي. دغه اکاډمی په ۲۰۰۲م کال کې د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرام، د ازادې ټولنې د انستیتیوټ (OSI) او د ایستونیا د حکومت له خوا جوړه شوې ده.

# د مدني ټولنې په هکله د مقننه قوې د ملاتړ د پروژې غونډه

د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرام د سیل (مقنه قوې د ملاتړ) پروژې په ملي شورا کې د مدني ټولنې د سازمانونو او د پارلمان د جندر (جنسیت) او د مدني ټولنې د کمیټو تر منځ د اړیکو د ټینګولو لپاره نیمه ورځنی غونډه جوړه کړې وه. د غونډې اصلي موخه د مدني ټولنې د ملاتړ د فعالیتونو د راټولونکي همغږی لپاره د مدني ټولنې د سازمانونو او د پارلماني کمیټو تر منځ د اړیکو جوړونه وه.بله موخه یې دا وه چې د کمېټو غړي د افغان مدني ټولنې له اهمیت څخه خبر کړي او دوی د بشري حقوقو په ځانګړې توګه د ملکي خدمتونو او مدني ټولنې په ساحو کې د بشري حقوقو ملاتړ ته وهڅوي.





جهت معلومات بیشتر:
دومانیك میدلی، مسؤول روابط رسانه ها
+۹۳ (۰) ۷۰ ۶۹۱ ۹۸۵
dominic.medley@undp.org
عزیز الرحمن ګلبهاری، مسؤول اطلاعات و نشرات
+۹۳ (۰) ۷۹۹ ۳۷۰ ۵۶۷
aziz.gulbahari@undp.org